لیکوال: ملک اشفاق
ژباړن: زاهد خلیلي

۰۱ دسمبر ۲۰۱۴

د ابن خلدون ژوند، اند او فلسفه

۱۲

د طبیعاتو علم

د طبیعاتو علم د اجسامو د حرکت او سکون په اړه بحث کوي، په دې کې فلکي اجرام او ځمکه هم تر څیړنې لاندې نیول کیږي.

په دې علم کې وریځې، گرد و غبار، د ثقل قوه او د زلزلو په اړه بحث کیږي.

پخوانیو د ارسطو لیکل شوی کتاب د طبیعیاتو د علم په اړه ښه او مهم کتاب گڼلی دی، دا کتابونه عربي ژبې ته هم ژباړل شوي دي او مسلمان فیلسوفانو هم په دې فن کې زیات مسائل څیړلي او شرحې یې پرې لیکلي دي.

ابن سینا د ارسطو د کتاب لنډیز لیکلی او ځینو زیاتو مسائلو تردید یې هم کړی دی، سربیره پر ابن سینا په اندلس کې ابن رشد هم ددې کتاب خلاصه لیکلې ده؛ خو، په دې کتابونو کې د ابن سینا کتاب (الاشارات) ته په نړۍ کې زیات اهمیت حاصل دی او په ټوله نړۍ کې ورته د قدر په سترگه کتل کیږي، د ابن سینا د ذکر شوي کتاب تر ټولو ښه شرحه امام فخر الدین رازي لیکلې ده او وروسته نصیرالدین طوسي هم یوه شرحه ولیکله.

د طب علم

په دې علم کې د انسان پر صحت او ناروغتیا باندې یې بحث کیږي.

یو طبیب د صحت اړوند د درملو په ساتنه او غذا باندې تأکید کوي.

یو ماهر طبیب ددې خبرې معلومات کولای شي، چې ناروغتیا د بدن په کومه عضو کې ده، هغه د ناروغتیا علتونه هم معلوموي، د هغې وروسته د درملو د خوړولو هم وایي.

د طب په علم کې د اعضاؤ کتې هم داخلې دي، ددې مطلب دا دی، چې د انسان د بدن داخلي اعضاء انسان ته کومې گټې رسوي.

پخواني یوهان جالینوس د طب د پوهانو امام بولي او د حکیم جالینوس څو کتابونه عربي ته ژباړل شوي دي، د طب په علم کې د حکیم جالینوس کتابونه معیاري گڼل شوي دي، همدا وجه ده، چې حکیمان د هغه کتابونه خپلې مخې ته ږدي او عمل پرې کوي.

په اندلس کي ابن زهر او ابن رشد وتلي حکيمان وه، موږ ته معلومه شوي، چي په کليو کي هم د طب علم موندل کيږي، داسي علم د نورو پر تجربو باندې ولاړ دی، په کليوالي طب کي طبي قوانين په نظر کي نه نيول کيږي.

د نباتاتو علم هم د طب پوري تړلی دی، ابن عوام ځو يوناني کتابونه عربي ته ژباړلي دي، د نباتاتو علم ډير ګټور دی، په ټولو طبي درمل جوړولو کي د بوټو څخه کار اخيستل کيږي.

ابن خلدون او د جغرافيي علم

ډاکټر ار جی مارتهر کوم چي د پنسلوانيا پوهنتون د جغرافيي د ديپارتمنت مشر دی، وايي، چي ابن خلدون چي کومه جغرافيه بيان کړي ده، د هغي اساسي اصول دي او موږ د ابن خلدون د وخت پوري د هغه غوندي جغرافيه پوه نه وينو.

ځمکه ګرده ده

د کائناتو په اړه د پوهانو د کتابونو نه داسي معلوميږي، چي ځمکه ګرده ده او د اوبو د عنصر نه رامنځته شوي ده، کله چي خدای تعالی په ځمکه باندې حيوانات پيداکول؛ نو، انسان ته يي په ټولو باندې د مشرۍ حق ورکړ، کله، چي يي ځمکه ودانوله؛ نو، د ځمکي د ځينو برخو نه يي اوبه ليري کړي، د ځمکي لاندې مرکزي نقطه يي مرکز دی او د ځمکي ټول اطراف ددي ثقل د مرکز د کشش د قوي په واسطه په دي پوري تړلي دي.

د ځمکي نيمه برخه خلاصه ده

د ځمکي هغه برخه، چي اوبه تري ليري کړای شوي دي نيمه برخه ده او اوبو ځمکه د هري خوا نه احاطه کړي ده، هغه سيمي ته بحر ميت وايي، يوه عجمي برخه او بله يي اقيانوسي برخه ده، چي دی سيمي ته بحر اخضر اسود هم وايي.

د ځمکي څومره برخه ودانه شوي ده

د ځمکي نيمه برخه اباده ده او نوره يي نه ده اباده شوې، وران ځايونه د جوړ شويو ځايونو څخه زيات دي، د ځمکي جنوبي برخه نسبت شمالي برخي ته زياته ورانه ده، اباده برخه د شمال طرفه زياته ده، جنوب خوا ته غرونه او بحرونه ډير دي.

ځيني خلک وايي، چي د ځمکي زياته برخه اوبه نيولی ده.

په دي ډول د ځمکي يو پر څلورمه برخه اباده شوي ده.

د روم د بحيرې موقعيت

د جغرافيي پوهان وايي، چي د بحر ميت نه لويديځ خوا ته د روم بحيره پرته ده، دا سيمه د طنجه او طرين د ۱۲ ميلو د فاصلي نه پيل کيږي، بيا مخکي ځي او پراخيږي، د شام ساحل هم دلته پروت دی، د اسکندريي پوري د برقي ساحل پروت دی، په شمال کي يي د قسطنطيني ساحل پروت دی، ددي وروسته بنادقه، روم او بيا د انګلستان ساحلونه پراته دي، د هغو وروسته د اندلس بحر راځي، کوم چي د طرين پوري اوږد پروت دی، په دي کي څو جزيرې دي، لکه کريټ، قبرص، سيسلي او نور.

د قسطنطنيي خليج

د بحر میت په شمال کې د دوو بحرونو نه دوه جلیجونه پراته دي، یو د قسطنطني په سیمه کې، دا د دریو سمندرونو نه تیریږي او بیا د څلورو میلو څخه ۶۰ میلو ته مخ په وړاندې ځي، دې ځای ته د قسطنطني خلیج وایي، بیا د ختیځ طرف ته ځي او د هرقلي د سیمې ته تیریږي او خزریه (قزوین) ښار ته رسیږي او همدلته یې پای دی، ددې ځای اوږدوالی ۱۳ میله دی.
ددې خلیج په غاړه روم، ترکیه، برجان او روس پراته دي.

د بنادقي خلیج

د روم د بحیرې دویم خلیج نه دویم سمندر د روم د سیمې شمال ته پروت دی، بیا د غرونو نه راوځي او د لویدیځ طرف ته د بنادقي ښار خوا ځي، بیا ۱۱۰۰ میله سفر کوي د انکلایه د ښارونو نه وځي او پای ته رسیږي، په دې ځایونو کې د بنادقو او رومي قومونو خلک اوسیږي، ځکه دې خلیج ته د بنادقي خلیج وایي.

د چین، هند او حبشي بحر

د شمال طرف ته ۱۳ میله لیرې، یو ستر بحر پروت دی، د جنوب طرف ته لومړي اقلیم ته رسیږي، بیا همدا اقلیم لویدیځ طرف ته تاویږي، ددې اقلیم پنځه برخې دي، په پنځمه برخه کې یې د حبشو او زنګیانو د باب المندب ښارونه دي، چې سمندر همدلته پای ته رسیږي.
دې ځای ته د چین، هند او حبشي بحر وایي، په دې ځای کې زنګیانو او د بربرې د ښار مرکز امرءالقیس هم پروت دی، په شمال کې یې چین، هند، سند او بیا احقاف او زبیده پراته دي، چې دا وروستي یې یمني سمندرونه دي، ددې وروسته د حبشیانو هیواد پروت دی.

د قلزم بحیره

د حبشي د بحر نه دوه نور بحرونه هم راوځي، یو یې د باب المندب سره نږدې دی، دا د شمال نه لویدیځ طرف ته پرمخ ځي، ۱۴۰۰ میله مخکې ځي او بیا د پنځم اقلیم سره پای ته رسیږي، چې دې ځای ته د قلزم بحر او د سویز بحر وایي.
په ختیځ سمندر باندې یمن، حجاز او جده پراته دي، په اخر کې یې مدین، امله او فاران دي، دویم طرف ته یې د حبشو ښارونه دي.

د فارس خلیج

د حبشو د بحر نه دویم راوتي سمندر ته د اخضر خلیج وایي، دا د سند او احقاف د منځ نه راوځي او د شمال خوا روان وي.
د جنوب خواته یې، سند، مکران او د کرماني فارس سواحل پراته دي، لویدیځ طرف ته یې، بحرین، یمامه، عمان او شحر اباد دي، په ابتداء کې یې یمني احقاف دي.

د عربو جزیره

د عربو جزیره د قلزم او د فارس د بحیرې په منځ کې پرته ده، په جنوب کې یې د هند بحر په لویدیځ کې یې د قلزم بحیره او ختیځ طرف ته یې د فارس بحیره پرته ده.

د عربو جزیره د شام او بصرې نه تر عراق پورې پرته ده، کوفه، قادسیه، او بغداد په همدې برخه کې پراته دي، سربیره پر دې د حجاز، یمامې، او د یمن جنوبي خوا ته پراته دي.
د عربو زیاته ساحه صحرایي ده او ددې ځای د سیمو اوسیدونکي د خپل پخواني روایات ساتلي دي.

د جرجان او طبرستان بحرونه

ددې نړۍ شمالي برخې ته د ویلم سیمه پرته ده، ددې د ټولو سمندرونو نه یو جلا سمندر دی، یو ته د جرجان یا طبرستان بحر وایي، ددې اوږدوالی ۱۰۰۰ میله او عرض ۶۰۰ میله دی، په لویدیځ کې یې اذربایجان، ویلم او په ختیځ کې یې د ترک او خوارزم سیمې پرتې دي، په جنوب کې یې طبرستان او په شمال کې یې د خزرولان سیمه پرته ده، دا ټول هغه مشهور سمندرونه دي، ذکر یې د جغرافي علماؤ کړی دی.

د نیل دریا

دغه دریا د شمال نه جنوب خواته بهیږي، د نوبې نه وروسته د مصر د ښارونو نه تیریږي او دلته په زیاتو څانګو باندې تقسمیږي، دا د روم د بحیرې سره نږدې د سکندریې په سیمه کې بحر ته تويیږي، په ختیځ کې یې صعید او لویدیځ کې یې الواحات پراته دي، دویمه دریا د لویدیځ طرف ته مخ کوي، دې دریا ته د سوډان دریا وایي، ټول سوډاني اقوام ددې دریا په غاړو باندې اباد دي.

د فرات دریا

دا د پنځم اقلیم شپږمه برخه ده، دا د ارمنیا د غرونو نه سرچینه اخلي او جنوب خواته د روم د سیمو نه تیریږي، او د صفین، رقحې، کوفې، بصرې پورې رسیږي او بیا د حبشو په بحر کې تويیږي، ددې دریا شاوخوا سیمې ډیرې شنې دي.

د دجلې دریا

دا دریا هم د ارمنیا د غرونو نه سرچینه اخلي، په جنوبي برخو کې د موصل، اذربایجان او بغداد نه تیریږي، دلته په څو څانګو باندې ویشل کیږي.

د جیحون دریا

د دریم اقلیم اتمه برخه ده، ددې سرچینه په بلخ کې ده، دا د جنوب نه د شمال طرف ته بهیږي او خراسان ته رسیږي، ددې وروسته ته خوارزم ته رسیږي او بیاد جرجان په بحر کې تويیږي.
د جیحون په دریا کې د خراسان او خوارزم سیمه پرته ده، په ختیځ کې یې د بخارا، سمرقند او د ترمذ سیمې پرتې دي.
دا ټوله جغرافیه بطلیموس په خپل کتاب (زخار) کې ذکر کړې ده، هغه په خپله جوړه کړې نقشه کې د نړۍ د غرونه، سیندونه او میدانونه هم ښودلي دي.

د نړۍ ابادي -لومړی او دویم اقلیم

وتلی څیړونکی فرانزروزن تهل په ۱۹۶۷ ز کال کې یو کتاب (An Introduction To History) ولیکه او د تاریخ پیژندنه یې په کې کړې ده، لیکلي یې دي، چې په ټولنپوهنه، ابادۍ او د اوسیدو د ځایونو په اړه د ابن خلدون نه

يوه شخص ماته بل په نظر کي نه ښکاري، هغه چي د ټولنپوهني او ابادئ په اړه څه ليکلي دي، هغه وروستی خبري دي.

ابن خلدون ابادي او جغرافيه په ډير علمي انداز کي وړاندې کړې ده او خپل معلومات يې په سانسي انداز کي ترتيب کړي دي، هغه خپل معلومي جغرافيي په حواله موږ ته وا يي، چي نړئ گرده ده او په دې کي اووه براعظمونه (لويي وچې) دي او هغه دغه لويي وچې په اوو اقليمونو باندې ويشلي دي او د هرې لويې وچې ابادي يې ذکر کړې ده.

ابن خلدون د دويم او دريم اقليم په اړه وايي، چي په دې سيمو کي ځنګلونه، ورانئ او ريګستانونه ډير زيات وي، ځکه په دې سيمو کي بادي ډيره کمه وي، ددې دواړو اقليمونو جنوبي برخي نه دي ابادې شوې؛ ځکه، هلته د ګرمئ شدت زيات دی، د همدې په وجه وچکالي او د اوبو کموالی وي او غربت او افلاس ډير موجود وي.

دريم اقليم

په دې سيمو کي د نړئ د نورو سيمو په نسبت شپې او ورځې اوږدې وي، ورځ په کي ۱۴ يا ۱۵ ساعته وي، ددې سيمو جنوبي برخي هم څه نا څه ابادي وي، دلته خوشالي هم دومره زياته نه وي؛ خو، په جنوبي برخو کي د اوبو اندازه زياته وي، په دې اقليم کي مصر او قاهره شامل دي.

څلورم اقليم

دا اقليم د دريم اقليم سره په شمال کي ملاويږي، د خضر جزيره د مجاز قصر يې په جنوب کي پراته دي، په دې اقليم کي زياتې جزيرې او د سيسلي سيمه پرته ده، په دې اقليم کي د لويديځ زياتې سيمې او هيوادونه شامل دي.

پنځم اقليم

ددې اقليم په جنوب کي اندلس پروت دی او د سمندر نه تيريږي او په ختيځه سيمه کي يې څو جزاير پراته دي، په دې اقليم کي د ترکانو سيمه هم راځی.

شپږم اقليم

په دې اقليم کي د انګلستان جزيره او د لويديځ زيات هيوادونه او ښارونه شامل دي، د شمال خواته د روسيې ابادي پرته ده، بلکه په جنوب لويديځ کي د قسطنطنيې ښار پروت دی.

اووم اقليم

په دې اقليم کي د روسيې ځيني سيمې واقع دي، دا برخه د جنوبي قطب پورې رسيدلې ده او په دې ځای کي ابادي د نشت په برابر موجوده ده؛ ځکه، ددې اقليم زياته برخه واورو پوښلې وي.

په انساني رنګ باندې د اقليم اغيزې

موږ په جغرافيه کي ذکر کړل، چي په شمال کي زياته يخني وي، بلکه په جنوبي سيمو کي زياته ګرمي ده؛ خو، منځنی برخي معتدلي دي، په دې سيمو کي اوسيدونکي خلک زيات معتدل مزاجه وي، په علومو او فنونو کي همدغه خلک پرمختګ کوي، دا خلک د نرم مزاج لرونکي دي، ښکلي عمارتونه جوړوي، بهترين لباسونه اغوندي، ددې سيمو د خلکو اخلاق ډير لوړ وي، په دې سيمو کي حيوانات او ميوې هم د اعتدال لرونکي وي.

د گرمو سیمو اوسیدونکي نیمه وحشي وي

هغه اقلیمونه چي د معتدل والي څخه لیرې دي، خلک يي هم په ټولو حالتونو کي د اعتدال نه لیرې وي، د هغوی کورنه د خټو او بانډسونو نه جوړ شوي وي، د هغوی خوراک جوار او وابښو ته ورته شیان دي.

د اعتدال نه د لیرې والي په وجه ددې خلکو مزاج او اخلاق د حیواناتو سره تقریبا ورته وي؛ ځکه، نو نیمه وحشي وي، په دې خلکو کي د صنعت او فن هیڅ رواج موجود نه وي.

حوالي:

۱- ډاکټر طه حسین کا فرانسيي مقاله، ۱۹۱۷ ز د ابن خلدون سوانح، د فرانسي چاپ

۲- د اکبر احمد مقاله (تهذیب اور تهذیب کا سمجهنا) مقدمه ابن خلدون – ۲۵ مخ، جرنل مطبعه فرانس

۳- ډکشنري اف مسلم نیمز – صلاح الدین احمد، هارټس مطبعه، لندن.

۴- ایم ای عنان – د ابن خلدون سوانح ، د مصر چاپ ۱۹۲۵

۵- C.F Seybol D د لندن چاپ

۶- د ابن خلدون د مقدمي تشریح، اوویس مطبعه ۱۹۹۵، نیویارک پوهنتون

۷- عبدالمحاسن ابن تغری بیروی – سوانح ابن خلدون

۸- دي فادر اف اکنامکس اینډ عرب سولایزیشن – اوویس نیو یارک پوهنتون چاپ ۱۹۸۸

۹- چودهوین صدي کا ماهر معاشیات ابن خلدون - جین ډیوډ- جرنل مطبعه

۱۱- کتاب العبر – ابن خلدون

۱۲- د پروفیسور ډاکټر طه حسین د پي ایچ ډي مقاله- مترجم مولانا عبدالسلام ندوي، عظم گرهـ مطبعه ۱۹۴۰

۱۳- ابن خلدون او اسلامي ساینس – محمد عبدالله ۲۰۰۷ چاپ

۱۴- سروی ان دی ډوپلمنټ اف هسټري، ساینس اینډ اکنامکس – محمد خواجه – اغا خان پوهنتون

۱۵- هسټرو گرافي اینډ اسلامک سکالر – ۲۰۰۸ اغا خان پوهنتون

۱۶- مسلم سکالرز او ابن خلدون – اغاخان پوهنتون ۲۰۰۸

۱۷- Debate God attrebutes with Mutazilah and ibni Kheldon, the Gnostus Encyclopedia

۱۸- انټروډکشن اف هسټري او مقدمد ابن خلدون – محمد خواجه اغاخان پوهنتون

۱۹- The Islamic Concept of knowledge Quarterly Journal of Islamic Thought and Culture, By Dr. W.S Akhtar